AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاين

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۲۰۲۳/۰۳/۰۴

# د افغانستان جمهوريت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (اتمه برخه)



**جنرال مشرف او پر لال جومات برید**

په (۲۰۰۷ز) کال کې جنرال مشرف د امریکایانو د غولوني په موخه په اسلام آباد کې پر لال جومات برید وکړ چې له امله یې یو ځل بیا نړیوالو ته وښودله چې ترهګر په ټول پاکستان حتا اسلام آباد کې هم شتون لري.

لال مسجد یا سور جومات د پاکستان په پلازمینه، د اسلام آباد په ښار کې دی، د جنرال ضیاء د واکمنۍ پر مهال د نوموړي جومات خطیب غازي عبدالله د ضیاالحق نږدې انډیوال ؤ، غازي عبدالله د افغان جهادي تنظیمونو په جوړولو او د افغانستان په ورانولو کې مهمه ونډه درلوده. غازي عبدالله د غازي عبدالرشید او عبدالعزیز پلار ؤ، غازي عبدالله په اصل کې بلوڅ توکمه دی، نوموړی یو بنسټ پالی ملا ؤ، سربېره پر جنرال ضیاء، له ذوالفقار علي بوټو سره یې هم نږدې اړیکې درلودلې وایي چې دغه ملا د خپلو خلکو پر وړاندې ناوړه کړنې ترسره کړې دي. نوموړي بلوڅان د بلوڅ ملتپالو، عبدالصمد خان اڅکزی، ولي خان خیر بخش مري، بزنجو پر خلاف راپارول، دغه ملا ته ضیاء الحق ډېر زیات واک ورکړی ؤ او د لال جومات امام یې ټاکلی ؤ، ضیاءالحق د دغې جومات په شاوخوا کې دوه مدرسې هم جوړې کړې وې چې یوه یې د حفصې په نوم او بله یې د فریدیه په نوم وه.

ملا عبدالله د خپلو مخالفانو لخوا په اتیایمو کلونو کې ووژل شو. وایي چې د ملا عبدالله زوی غازي عبدالرشید ملا نه ؤ، هغه اقتصاد لوستی ؤ، د قاید اعظم له پوهنتون څخه یې لال جومات ته راوستلی ؤ. د ملا عبدالله بل زوی عبدالعزیز د (آی، اېس، آی) پخوانی کارکوونکی ؤ او هغه یې هم نوموړي مدرسې ته راوستلو.

لال جومات د (آی، اېس، آی) له دفتره (۲۳۰) متره فاصله لري، جنرال ضیا، د مازدیګر لمونځونه په همدې جومات کې کول، د (آی، اېس، آی) دفتر کارکوونکو هره ورځ لال جومات ته د لمونځ ادا کولو په موخه ورتلل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

شپږ میاشتې وړاندې د لال جومات ملایانو او طالبانو ځانونه جګړې ته چمتو کړي وو، په جومات کې لاسي بمونه، راکټ لانچر، چاودیدونکي توکې، ماشینګنې او نورې وسلې ځای پر ځای کړې وې.
دغه ناوړه او بې ګټې کار د (آی، اېس، آی) په لمسون ترسره شوی ؤ، موخه یې دا وه چې کله طالبان وسلې او مهمات جومات او مدرسې ته د ننه کړي نو جنرال مشرف به عملیات پرې وکړې او له دې لارې به امریکایانو ته وښیي چې موږ د ترهګرۍ سره مخ یو او پر وړاندې یې سخت عملیات کوو. او د ترهګرۍ په نوم به له امریکایانو نورې پیسې ترلاسه کړي.
د جومات ملا عبدالرشید شپږ میاشتې وړاندې د پاکستان حکومت لخوا بندي شوی هم ؤ، په هغه تور ؤ چې له ځمکې ښخه هوا ته د سټنګر توغندي یې له ځان سره ساتلي دي چې وروسته د اعجاز الحق، د جنرال ضیا زوی چې د جنرال مشرف په حکومت کې د دیني چارو وزیر ؤ له بنده خوشی شو.
نوموړو ملایانو د ننه په مدرسه کې اسلامي شریعت اعلان او پلی کړی ؤ، په اسلام آباد کې یې داسې کړنې ترسره کړې چې د نړۍ پام یې وروااړاوه، دوی خلک برمته کول چې له هغو ښځه د چینایانو د (فیزیوترافۍ) یو مرکز، شپږ تنه کارکوونکي او د خاله شیمیم په نوم یوه میرمن او د هغې د کورنۍ ښځې یې په بدلمنۍ تورنې کړې او بندیانې یې کړې، د دوی کسانو د جومات په شاوخوا کې وسله والې ګزمې کولې او پاکستاني حکومت په بې تفاوتۍ سره ورته کتل.
عبدالعزیز په یوه غونډه کې وویل چې په دې خاوره (۶۰) کاله وړاندې اسلامي حکومت جوړ شوی ؤ خو تر نن ورځې په دې ځای کې غیراسلامي کارونه روان دي، عبدالعزیز پاکستان حکومت ته په دې غونډه کې یوه میاشت وخت ورکړ چې د موسیقۍ دوکانونه وتړي او د ده په اصطلاح د فحاشیو مخه دې ونیسي، ده حکومت ته خبرداری ورکړ چې که د دوی پر وړاندې هڅه وکړي نو په زرګونو طالبان به ځان وژونکي بریدونه وکړي.
څلور میاشتې وړاندې دوی ځینې د سازونو کسیټونه او فلمونه سوزولي وو، ځینو دیني عالمانو د دوی دا عمل رد کړ، د پاکستان پېژندل شوي دیني عالم ډاکټر فاروق خان په اسلام آباد کې د اسلامي شریعت د اعلان غندنه وکړه ده وویل:«دا بلکل بې وقوفي ده، دا غلط کار دی په دې سره نه اسلامي شریعت راتلی شي او نه په دې طریقې سره د اسلام خدمت کیږي، په دې سره سراسر اسلام ته نقصان کیږي، د اسلام د دعوت لاره بندیږي، اسلام چې په آزادۍ باندې یقین ساتي هغه ختمیږي، په دې وجه باندې جمهوریت هم ختمیږي... »
کله چې غازیانو ورونو د پاکستان بې پروایي او د (آی، اېس، آی) ملاتړ ولید نو دوی څو تنه پولیس وتښتول، بیا یې جومات ته په نږدې امنیتي پوسته برید وکړ.
په پای کې پاکستاني ځواکونو له ملا غازی وغوښتل چې حکومت ته تسلیم شي، محکمې ته دې حاضر شي یا دې هېواد پرېږدې او یا دې په خپل کلي کې نظربند شي، غازي د حکومت دا وړاندیزونه ونه منل.
هغه وو چې د پاکستان پوځ د جنرال مشرف په امر پر جومات او مدرسه باندې په داسې حال کې برید وکړ چې پر طالبانو او ملایانو سربېره، په سوونو ښځې، پېغلې او ماشومانې په مدرسه کې د ډال په توګه د غازي ورونو له خوا ایسارې شوي وې، جګړه ونښته چې په لومړیو ورځو کې د پاکستان د کومانډو ځواکونو یو لوړ پوړی قوماندان هارون اسلام هم ووژل شو او طارق نومی یو جنرال سخت ټپي او یو شمېر عسکر هم ووژل شول.



(د لال جومات پاڅونوال)

په دې جګړه کې، عبدالرشید غازي او شپیته تنه طالبان ووژل شول، د غازي عبدالرشید مور هم په کې ووژل شوه او ښځه یې امنیتي ځواکونو ونیوله، په دغه ورځ اتیا تنه ښځې او نجونې وژغورل شوې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د عبدالعزيز ښځه او لور له مدرسي وتلي او تښتيدلي وې او عبدالعزيز د (۶۰) تنو جلکيو په منځ کي په چادرۍ کي له جوماته ووت او د حکومتي ځواکونو لخوا ونيول شو.
هغه مهال چي د ارزګان په بازار کي طالبانو په يو انتحاري بريد کي ۱۷ تنه عام خلک چي ۱۲ تنه يې ماشومان وو ووژل، د دغو وژنو د غندني پر مهال حامد کرزي په خپله وينا کي، د لال جومات د جګړې په هکله وويل:«دا د دوی غيرت دی، موږ ته خلک د وژنو په موخه رالېږي او زموږ پر خلاف يې ترببه کوي خو په خپله د ښځو په چادريو کي د جګړې له ډګره د ښځو په منځ کي تښتي.»
په لال جومات کي د موجودو وسله والو او امنيتي ځواکونو تر منځ تر اتو ورځو جګړه روانه وه چي په پای کي امنيتي ځواکونه د ډېرو تلفاتو په ورکولو سره بريالي شول، له نوموړي مدرسي (۱۵۰۰) تنه طالبان او طالباني بهر ووتل او پاکستاني ځواکونو ته تسليم شول. (د جولای ۳/ ۲۰۰۷ز، کال)
په اسلام آباد کي خلکو (۹۰) مړيستونونه وليدل شول چي وژل شوي کسان يې خاورو ته امانت سپارلي دي.
د القاعدې مرستيال ډاکټر ايمن الظواهري وويل چي موږ به د لال جومات د طالبانو غچ اخلو.
په پاکستان او سيمه کي د نوموړي جګړې په اړه غبرګونونه وښودل شول، د پاکستان د پارلمان يوې وکيلې نګهت اورکزی وويل چي زه دغو دوو کسانو عبدالرشيد او عبدالعزيز ته د مسلمانانو په نظر نه ګورم ځکه چي دوی د مسلمانانو بچي برمته کړي دي ... .
د لال جومات په مدرسه کي ډېرو ښځو او ماشومانو زده کړې کولي چي د جګړې پر مهال دغه بې ګناه ښځي او ماشومان ملايانو د ځان لپاره ډال ګرځولي وې خو جنرال مشرف د نوموړي جومات له ملايانو هم ناوړه کار وکړ چي پر جومات يې عمليات پيل کړل او ښځي ماشومان يې په نظر کي ونه نيول، سربېره پر وژل شويو ښځو، پېغلو او ماشومانو، هغه پېغلې، ښځي او ماشومان چي د پوځ لخوا نيول کيدلي يا ورته تسليميدلي، هغه به يې بنديانولي او ځېرني او ګرويږني يې ترې کولي، خپلو کورونو ته يې نه لېږلي، د دوی کورنی وايي چي زموږ ماشومان او د کور غړي، نه په مړو کي شته نه په ژوندو کي، دغه کورنی په لوی وحشت کي پاتي شوي وي.
په جګړه کي د مدرسي ودانۍ ورانه شوه او هغه مهال چاروکو ويلي وو چي دغه مدرسه پر دولتي ځمکه په غير قانوني توګه ودانه شوي ده. مولانا عبدالعزيز چي وروسته له بنده خوشی شو، وايي چي د جومات څنګ ته پر ځمکه بايد له سره مدرسه ودانه شي.
د عبدالرشيد غازي مشر زوی، هارون رشيد د پاکستان په ستره محکمه کي د پخواني پوځي مشر، جنرال مشرف پر ضد د خپل پلار او نيا په وژنو کي د ده د لاس لرلو له امله قضيه پر مخ وړي. په ۲۰۱۳ز، کال کي د پاکستان پوليسو د هارون رشيد عريضه ثبت کړې وه. مشرف په خپل کور کي د پوليسو له خوا نظربند شوی ؤ چي کور ته يې د جېل درجه ورکړل شوي وه.
له بده مرغه چي دا ټول نمايشي کړني وې او نوموړی جنرال دوبی ته ولاړ. څو ورځي وړاندي جنرال مشرف په يوه ناعلاجه ناروغی ومړ، د لال جومات ملا عبدالعزيز هغه چي په چادرۍ کي د لال جومات له جګړې په تښته کي ؤ، د مشرف پر مړينه يې وينا وکړه، هغه يې وبښلو او د مغفرت دعاګاني يې ورته وکړې. (پوره مالومات تر ډېره له غږيزو رسنيو او انټرنيټ څخه راټول شوي دي.)



(ملا عبدالعزيز د لال جومات ملا)

نېټه: ۱۴۰۱/۱۲/۱۲
نور بيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ